## د مرکزي او جنوبي آسیا ترمنځ ترانزیټ موږ ته څهٔ ګټه لري؟

**امین وردګ**

پهٔ جغرافیاوي لحاظ افغانستان د مرکزي او جنوبي آسیا تر منځ د اتصال مهمه اقتصادي نکته ده چې د یوه تجارتي پل اهمیت لري، ځکه خو د دواړو لوریو په اقتصادي تعاملاتو کې زموږ میره ده؛ د افغانستان ثبات او نا امني د آسیا پر دواړو خواؤ مستقیم اثر لري، ځکه خو کهٔ افغانستان آرام ؤ د آسیا دواړه لوري بهٔ آرام وي او که افغانستان نا آرامه او بې ثباته شو نو یوه خوا بهٔ هم خیر و نه ویني.

موږ دریواړه (مرکزي آسیا، افغانستان او جنوبي آسیا) اقتصادي، سیاسي، کلتوري، اجتماعي او په ځینو مواردو کې آن دیني مشترکات هم سره لرو، موږ تل یو د بل په دردونو دردېدلي او کړېدلي یو نو باید چې یو بل ته (د لغتو پر ځای) اوږې ورکړو، د کندو او کړنګونو پر ځای پلونه سره جوړ کړو، د یوبل ملامتولو، ملا ماتولو او ماتولو پر ځای یو د بل ملاوې وتړو څو دریم کس ته د مداخلې موقع پیدا نشي.

د جنوبي او مرکزي آسیا تر منځ لسګونه کلونه وړاندې یوه لویه اقتصادي طرحه (TAPI تاجکستان، افغانستان، پاکستان او انډیا /هندوستان) جوړه شوې وه مګر د تطبیق لپاره یې د افغانستان تېر څلوېښت کلونه ستر خنډ ؤ، ځکه چې دلته نه امنیت ؤ، نه باوري اداره او نه هم د عهد او پیمان لپاره وړ اشخاص، حکومتونه، یا جهتونه.

ټاپي، ټاپ، کاسا ۱۰۰۰ او له سرخان دریا ولایت څخه بیا تر پېښور پورې د رېل ګاډي یا اورګاډي پټلۍ؛ دا څلور هغه سترې پروژې دي چې د مرکزي او جنوبي آسیا د اقتصادي پیاوړتیا تر څنګ- د افغانستان لپاره یوه لویه اقتصادي منبع یا سرچینه هم جوړېدلای شي.

د ېبلګې په توګه!

### د ټاپي (TAPI) پروژه:

له ترکمنستان څخه د ګازو نل لیکه پیلیږي ، بیا د افغانستان له خاورې او پاکستان څخه تیریږي، هند ته اوږي؛ یاده نل لیکه تخمیناً دوه زره (۲۰۰۰) کیلومتره اوږدوالی لري

چې شاوخوا آته سوه (۸۰۰) یې تنها د افغانستان له هرات، فراه، هلمند او کندهار ولایتونو څخه تېریږي.

اټکلاً دوه نیم، الی دری کاله به پنځه زرو (۵۰۰۰) افغانانو ته کار پکې پیدا شي، د دری میلیارده (۳،۰۰۰۰۰۰۰۰۰) متر مکعب گاز تر څنگ بۀ د کال څلور سوه (٤۰۰،۰۰۰۰۰۰) میلیونه ډالره حق العبور هم افغانستان ته ورکوي او ضمناً بۀ د دغې نل لیکې لپاره امنیتي کسان هم د دېرشو کلونو لپاره (چې دا لومړی قرارداد دی) گمارل کیږي.

## ټاپ (TAP) پروژه:

یاده پروژه بۀ له ترکمنستان څخه (د افغانستان له لارې) پاکستان ته برېښنا لېږدوي ، موږ ته بۀ له انرژۍ علاوه کلنی حق العبور هم راکوي.

## د کاسا زر (CASA1000) پروژه:

دغه پروژه بیا له قرغزستان او تاجکستان څخه (د افغانستان له لارې) پاکستان ته برېښنا لېږدوي، د برېښنا دغه مزی بۀ د افغانستان له شپږو ولایتونو څخه تیریږي او د درې سوه میگاواټه برېښنا تر څنگ بۀ موږ ته (٤٥،۰۰۰۰۰۰) پنځه څلوېښت میلیونه ډالره کلنی حق العبور هم راکوي.

## د رېل گاډي پټلۍ:

دغه پټلی بۀ له ازبکستان څخه پیلیږي، له بلخ، سمنگانو، بغلان، سالنگونو، چاریکارو، کابل او ننگرهار څخه بۀ تیریږي او پېښور ته بۀ ځي؛ خو که دوو لوریو (ازبکستان او افغانستان) څۀ کوښښ نور هم وکړ او دغه پټلی یې کراچۍ ته ورسوله نو دا بۀ بیا د ټولو په گټه وي، ځکه چې ازبکستان او افغانستان بۀ خپل تجارتي اموال (د هند له بحر څخه مستقیماً خپلو هېوادونو ته) را باروي او پاکستان بۀ ترانزیتي ټکس اخلي.

کۀ چېرې زموږ پۀ هېواد کې امن مداوم او اداري مو هم تر واحدې قوماندې لاندې دوام وکړ ، حکومت مو بین المللي جواز تر لاسه او لږ تر لږه گاونډیانو او د سیمې ځینو هېوادونو لکه روسیې، هند او چین په رسمیت وپېژاند او تر څنگ مو یې لا د کار خلک پر

دنــدو وگمــارل او احســاس د مســؤلیت تــه مــو اولویــت ورکــړ - نــو زر ده چــې یــادې پــروژې بــۀ عملي شي او په لنډ وخت کې بۀ د لویو پرمختگونو شاهدان شو ان شاءالله.

ښــه بــۀ دا وي چــې پــه پــای کــې دا خبــره هــم یــاده کــړو ((بایــد نــړۍ، ســیمه او زمــوږ گاونــډیان - لــه اوســنۍ زرینــې موقــع څخــه مثبتــه گټــه واخلــي او لــه مــوږ ســره د افغانســتان پــه آرامــۍ، پرمختــگ او اقتصــادي پیاوړتیــا کــې پــوره مرســته وکــړي، یــا خــو لــږ تــر لــږه زمــوږ پــه کورنیــو چــارو کــې لاســوهنه ودروي او د دغــۀ هیــواد دښــمنان نــور راتــه و نــۀ لمســوي، تــر څــو هــم دوی آرام او خوشاله شي، هم موږ))

د یوۀ آزاد، آرام، آباد او ځانکفا افغانستان په هیله.